

اوونیزه
ابادي
هفته نامه آبادی

ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصــادي او ټــولنيزو مسايلــو په برخــه کــې
د رياســت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

ګڼـــه: ۲۱ | مسلسل نمبر: ۶۳
شنبه، د ربيع الاول ۴ مه، ۱۴۴۶ هـ. ق کال

## جلسهٔ نوبتی کمیته سرمایه گذاری بین الوزارتی در قصر مرمرین برگزار شد



۲ صفحه

## افغانستان به په نېږدې راتلونکي کې تر ټولو نــږدې، ارزانه او باوري لارې پر مټ له اروپا سره وصل شي




۲ مه صفحه

## د روغتيــا سکتــور په برخه کــې د اسلامي امارت لاسته راوړنو ته کتنه



۳ مه صفحه





## سرلیکنه

پــه نړيــوال نظــام کــې د بدلونونــو چټکتيــا، نړيوالتوب(ګلوبلايزشن) موضوع او په سيمه‌ييزه او نړيواله کچه د هېوادونو له يو بل سره د اړيکو پراختيا، هېوادونه دې ته اړ ايســتلي چې د خپلو ملي ګټو د ترلاسه کولو له پاره په نړيوال نظام کې د خپل هېواد دريځ و ارزوي، ستراتيژيک او مناســبې حل لارې په کار واچوي. هر هېواد خپل اړيکي له ګاونډيو پيلوي او بيا يې سوکه سوکه لمن د سيمې او په پای کې د نړۍ تر نورو هېوادونو پورې غځوي. اســلامي امارت هم همداسې ديپلوماسي غوره کړې ده. تر دې مهال يې له ګاونډيــو هېوادنو پرته د منځنۍ اســيا هېوادونو سره خپل سياسي او اقتصادي اړيکي پراخ کړي دي. په سياسي برخه کې د منځنۍ اســيا په هېوادونو کې د افغانســتان سياسي نماينــده ګۍ اســلامي امارت ته ســپارل شــوې دي. په اقتصادي برخه کې بيا د ســوداګريزو اړيکو ترڅنګ سترې زيربنايــي پروژې لکه د لاجوردو لارې، د تاپي، کاســا زر، ټوټاپ او تاپ، د ترانزيټ په برخه کې د اوسپنې پټلۍ پروژو عملي چارو پيلولو ته افغانســتان او د منځنۍ اسيا هېوادونه پوره چمتوالی لري.

دا چې افغانســتان د خپل ســتراتيژيک موقعيت له امله د ګاونډيو هېوادونو له پاره ښــه سوداګريز او ترانزيټ شريک دی، ددې ترڅنګ د پلور يو ښــه بازار هم ګرځېدلی دی. د منځنۍ اسيا هېوادونه چې طبيعي زېرمې، برېښنا، ګاز، کرنيز محصولات، برېښــنايي وســايل، کرنيز ماشــين آلات او ساختماني وسايل او دې ته ورته نور توکي لري، افغانستان او د اســيا نــور هېوادونه ددې توکو له پاره ښــه بازار دی. افغانســتان د منځنۍ اسيا له پاره تر ټولو لنډه او خوندي لار ده او د منځنۍ اسيا هېوادونه کولای شي، له دې لارې ګټه پورته کړي. د منځنۍ اســيا هېوادونه د افغانســتان همدې موقعيت ته په کتو هڅه کوي چې خپل اړيکي له اســلامي امارت سره پراخ او ټينګ کړي.

اســلامي امارت د خپل اقتصاد محوره سياست له مخې پر دې تمرکز کړی چې په سر کې افغانستان د اسيا لويې وچې د اتصال په نقطه بدل او بيا يې د منځنۍ اســيا له لارې د نړۍ له سوداګريزو مارکيټونو سره ونښلوي. د منځنۍ اسيا له هېوادونــو سره ورځ تر بلې ســياسي او اقتصادي اړيکي د پراخېدو په حال کې دي. د سياسي اړيکو د پراختيا په برخه کې کولای شو د قرغزســتان له لوري د هغو ډلو له ليست څخه د اسلامي امارت ايستل په ګوته کړو چې په دغه هېواد کې بنديزونه پرې لګيدلي و. اقتصادي برخه کې د تاپي او تــاپ پروژو د عملي چارو د پيل هوکړه ليکونو لاســليک، د لاجــوردو لارې بېرته فعالول او د منځنۍ اســيا له لارې د افغانستان د تازه ميوو ترانزيټ ته اجازه ورکول، نور هغه څه دي چــې د افغانســتان او منځنۍ اســيا هېوادونو ترمنځ د اقتصادي او سوداګريزو اړيکو د پراختيا ښکارندويي کوي. د افغانستان او منځنۍ اسيا هېوادونو ترمنځ چې څومره اړيکي پراختيــا مومي، هغومره به د افغانســتان او منځنۍ اســيا هېوادونو په ګټه وي. افغانســتان به د منځنۍ اسيا له لارې ګرمــو اوبو او نړيوالو مارکيټونو ته لاسرســی پيدا کړي او د منځنۍ اســيا هېوادونه به بيا د افغانســتان د ستراتيژيک موقعيت څخه په ګټې اخيستو خپل تيل، ګاز ، کاني توکي، کرنيز محصولات او نور وســايل د اسيا هغو هېوادونو ته چې دې توکــو تــه اړتيا لري، صــادر کړي. پــه دې سره به د افغانســتان او منځنۍ اســيا هېوادونو د سوداګرۍ ترڅنګ اقتصادي وده ګړندۍ شي.

# جلسهٔ نوبتی کمیته سرمایه گذاری بین الوزارتی در قصر مرمرین برگزار شد



در جلسهٔ نوبتی کمیته سرمایه گذاری بین الوزارتی که ۱۳ ام سنبله ۱۴۰۳ خورشیدی در قصر مرمرین برگزار شده بود، طبق اجندا، روی شماری از طرح های سرمایه گذاری بحث شد.

در این نشست طرح احداث فارم های زراعتی درخت پالم در ولایت بلخ، تخار و جوزجان برای بحث و تبادل نظر ارائه شد. پس از ارزیابی همه جانبه، طرح یاد شده مورد تائید قرار گرفته و جهت واگذاری زمین به این فارم های زراعتی، به مقام عالی رهبری امارت اسلامی افغانستان ارسال شد. این فارم ها به ۲۰۰۰هکتار زمین نیاز دارد و زیر نظر کارشناسان وزارت زراعت، آبیاری و مالداری انجام خواهد شد.

همچنان در این جلسه پلان برق رسانی به قریه موری چاق ولسوالی بالامرغاب ولایت بادغیس توسط سکتور خصوصی نیز مورد تائید قرار گرفت.

به همین گونه برای طرح های اعمار مرکز تجارتی در ولایت لغمان، اعمار مندوی سبزی در ولایت غزنی و نیز تولید برق از کثافات در شهر کابل، کمیته ها تعیین شد، تا ابعاد تخنیکی، مالی و اقتصادی طرح های یاد شده را ارزیابی و گزارش خود را به تاریخ تعیین شده به کمیته سرمایه گذاری بین الوزارتی ارائه دهند.

# افغانستان به په نیږدې راتلونکي کې

## تر ټولو نږدې، ارزانه او باوري لارې پر مټ له اروپا سره وصل شي

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ازبیکستان ته د خپل سفر پر مهال «د ترمذ نړیوال سوداګریز مرکز» د پرانیستې په مناسبت د جوړو شوو مراسمو په څنډه کې د آذربایجان هیواد د لومړي وزیر له مرستیال سره وکتل. په دغه لیدنه کې د دواړو لورو ترمنځ د نورو موضوعاتو ترڅنګ د لاجوردو ترانزیټي لارې د فعالېدو په اړه هم تفصیلي خبرې وشوې، د آذربایجان د لومړي وزیر مرستیال وویل، هیواد یې چمتو دی چې له افغانستان او سیمې هیوادونو سره د خپلو سوداګریزو اړیکو د پراخولو په موخه د لاجوردو لاره بېرته فعاله او همدا راز افغانستان ته د سوداګرۍ په برخه کې د خپلو صادراتو او وارداتو کچه هم لوړه کړي.

د لاجوردو لاره یوه سوداګریزه او ترانسپورټي لاره ده، چې د افغانستان د فاریاب او هرات ولایتونو له آقینې او تور غونډۍ بندرونو څخه پیلیږي، د ترکمنستان د ترکمن‌باشي بندر ته رسیږي، بیا د کاسپین سمندرګي څخه په تېرېدو د آذربایجان باکو ته ځان رسوي او د ګرجستان د تبلیسي ښار څخه په تېرېدو ترکیې او له هغه ځایه اروپا ته لار پیدا کوي.

د لاجوردو لاره یو له هغو مهمو پروژو څخه ده، چې په سیمه کې د افغانستان د وصل لپاره مهم پرمختګ، د سوداګریزو او ترانزیټي لارو متنوع کېدو، او پر دې سربېره به افغانستان د سویلي، منځنۍ اسیا او منځني ختیځ مارکېټونو د نښلون په برخه کې خپل اقتصادي راتلونکی لا ډاډمن کړي.




د لاجوردو لاره نه یوازې دا چې په خپله یوه مهمه پروژه ده، بلکې له یو شمېر نورو سیمه‌ییزو پروژو سره هم همغږې ده او د ښکېلو هیوادونو اقتصادي – سیاسي ګټې تامینولای شي.

د دغې لارې په اوږدو کې له بېلابېلو ځمکنیو او سمندري ترانسپورټي وسایلو څخه استفاده کیږي.

د لاجوردو لار د افغانستان د صادراتو او وارداتو لپاره تر ټولو ښه بدیله سوداګریزه لار ده. د دې لارې په اوږدو کې پراته هیوادونه د افغانستان د مهمو صادراتي توکو لکه وچې میوې، طبي بوټو او کاني توکو لپاره ښه مارکېټونه لري. پر دې سربېره به افغانستان له دې لارې وکولای شي خپل صادرات اروپايي مارکېټونو ته هم په کم وخت، لږ لګښت او مصؤون ډول ورسوي. دغه راز به افغانستان وکولای شي د خپلې اړتیا وړ وارداتي توکي د دې لارې په مسیر کې له پرتو او اروپايي هیوادونو څخه په کم وخت، لږ لګښت او خوندي ډول هیواد ته وارد کړي.

د لاجوردو لارې شریک هیوادونه لېوالتیا لري چې افغانستان له دې لارې عملاً استفاده پیل کړي، پر همدې اساس اسلامي امارت هم د خپل اقتصاد محوره بهرني سیاست له مخې غواړي چې افغانستان د لاجوردو لارې برخه وګرځوي.



# د روغتیا سکټور په برخه کې
## د اسلامي امارت لاسته راوړنو ته کتنه

لیکوال: فضل ولي شیراني

**سریزه:**

افغانستان په ۱۳۵۷ لمریز کال کې د ثور له کودتاه وړاندې، تر یوه حده پرمختللی و. خو د ثور له کودتاه وروسته په افغانستان کې جګړې پیل او د سیمې په ګډون له ګاونډیو هېوادونو سره سیاسي اړیکې ترینګلې او د پولو په تړل کېدو سره بیوزلي پراخه شوه. د افغانستان زیاتره وګړي د جګړې له امله د هېواد پرېښودو ته اړ شول. په دغو کسانو کې د روغتیایي برخې کسان هم شامل وو. بیا چې کله په ۱۳۷۱ لمریز کال کې مجاهدین واک ته ورسېدل او خپلمنځي جګړې پیل شوې، نو د ډاکټرانو او نرسانو په ګډون پاتې روغتیایي کارکوونکي هم له هېواده کډه شول. د امریکا د اشغال پرمهال په تېرو شلو کلونو کې افغانستان ته میلیاردونه ډالر راغلل، خو د کابل اداري له لوري حیف او میل شول. د هېڅ برخې له پاره کار ونه شو او نه زېربناوې جوړې شوې. همدا لامل و چې زموږ ډېر هېوادوال به د درملنې له پاره له هېواده بهر تلل او هغو کسانو چې اقتصادي حالت یې ښه نه و، خپل ناروغ به یې بس تقدیر ته سپارلی و. خو د اسلامي امارت په راتګ سره د نورو سکتورونو ترڅنګ روغتیایي برخې ته هم پوره پاملرنه شوې او په دې برخه کې تر یوه بریده پرمختګونه شوي دي. په دې لیکنه کې د افغانستان روغتیایي سکټور ستونزو او پرمختګونو او د اسلامي امارت لاسته راوړنو ته کتنه شوې ده.

**د افغانستان روغتیايي سکټور ستونزې او پرمختګونه**

د افغانستان په روغتیایي سکټور کې د لومړي روغتیایي مرکز له جوړېدو څخه ۹۵ کاله تیرېږي، خو د شاوخوا یوې پیړۍ په تیرېدو سره لا هم افغانستان د هغو هېوادونو په کتار کې راځي چې د روغتیا په برخه کې له ګڼو ستونزو سره مخامخ دي. که نه په ۱۳۶۹ لمریز کال کې په ټول افغانستان کې ۱۴۳ اساسي روغتیایي مرکزونه، ۲۵۰۴ ډاکټران، ۵۵۷ فارمسستان موجود وو. خو له هغه وروسته چې په افغانستان د روسانو یرغل پای ته ورسېد، په ۱۳۹۵ لمریز کال کې په ټول افغانستان کې ۱۷۰دولتي او ۳۸۸ خصوصي روغتونونه فعال وو. ددې ترڅنګ په همدې کال کې ۲۱۷۳ روغتیایي مرکزونو فعالیت درلود. خو د روسانو وتلو او د کمونیستي رژیم له نسکورېدو وروسته چې کله په کابل او د هېواد په بېلا بېلو ولایتونو کې د مجاهدینو ترمنځ خپلمنځي جګړې ونښتې، نو بیا د نورو سکټورونو ترڅنګ د روغتیا سکټور هم سخت زیان ولید. روغتونونه، روغتیایي مرکزونه د جګړو په اور کې وسوځېدل او زیاتره روغتیایي کارکوونکي له هېواده ووتل.

تر هغه وروسته چې کله د لومړي ځل له پاره اسلامي امارت رامنځته شو او خپلمنځي جګړو ته یې پای ورکړ او په هېواد کې یې امنیت راوست، نو سوکه سوکه د نورو برخو ترڅنګ د روغتیا سکټور هم تر یوې اندازې پرمختګ وکړ. ځینې پخواني روغتونونه بیرته فعال او د ناروغانو درملنه یې پیل کړه. ولې د امریکا له لوري پر افغانستان له یرغل وروسته باوجود ددې چې میلیاردونه ډالر افغانستان ته راغلل، خو د روغتیا سکټور ته هسې کار ونه شو چې په دې برخه کې دې د خلکو ستونزو ته په بشپړ ډول پای ورکړل شي. هغه مهال ځو مهمې ستونزې وې چې ددغه سکټور فعالیتونه یې کاواکه کړي وو. لومړی ستونزه دې سکټور ته د کافي بودیجې نه ځانګړې کول، د اداري فساد شتون، بې کیفیته روغتیایي خدمتونو وړاندې کول او د ډاکټرانو کموالی نورې هغه ستونزې وې چې روغتیایي سکټور یې سخت ټکنی کړی و. د امریکا تر ماتې او د کابل ادارې له ړنګېدو وروسته د دوهم ځل له پاره د اسلامي امارت په



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اباديِ اوونيزه
هفته‌نامه آبادی



راتګ سره په هېواد کې اقتصادي خوځښت او د زېربناوو بیارغونه، د اسلامي امارت له مهمو کاري لومړیتوبونو څخه دي او اوسني نظام د افغانستان د هغو زیربناوو پر بیارغونې تمرکز کړی چې په تېرو لسیزو کې د جګړو له امله سخت زیانمن شوي دي. د زیربناوو بیارغونه کې د سړک جوړولو او بیارغونې پروژې چې ولایتونه، ولسوالۍ او کلي سره نښلوي لومړیتوب ورکړل شوی دی. د دې ترڅنګ، د روغتونونو، پلونو، ښوونځیو او نورو اړینو زیربناوو د ترمیم او بیارغولو لپاره هم هڅې روانې دي، ترڅو هېوادوالو ته اسانتیاوې رامنځته او خدماتو ته د دوی لاسرسی اسانه شي. سربېره پردې چې اوسنی نظام له راز راز اقتصادي بندیزونو سره مخ دی، خو اسلامي امارت د زیربنایي پروژو پلي کولو او په ځانګړي ډول د روغتیا برخې او با کیفیته روغتیایي خدماتو وړاندې کولو ته ژمن دی. اوسمهال تر ټولو ښه درملنه په کابل، ورپسې په کندهار، هرات او مزارشریف کې کېږي. په کابل کې د ماشومانو لپاره د فرانسې طبي انستیتیوت او د اندراګاندي د ماشومانو روغتون په هېواد کې د ماشومانو له پاره مخکښ روغتونونه دي. په کابل کې د سردار محمد داوود خان نظامي روغتون، جمهوریت روغتون او جناح روغتون له لویو روغتونونو څخه دي. په کندهار ولایت کې د عینو مینې ۳۵۰ بستریز روغتون او مهمند ۵۰ بستریز روغتون د دغه هېواد په سویل کې تر ټولو عصري دوه روغتونونه دي. میوند تدریسي روغتون، په ۱۹۶۰ میلادي کال کې په ورځ کې له ۳۰۰ نه تر ۴۰۰ ناروغانو د درملنې په موخه تاسیس شو، خو په ۲۰۱۹ میلادي کال کې په ورځ کې له ۱۰۰۰ تنو زیاتو ناروغانو دغه روغتون ته مراجعه کوله او اوس دا روغتون تر پخوا لا مجهز شوی او ناروغانو ته روغتیایي خدمتونه وړاندې کوي. اسلامي امارت د صحت په برخه کې تر ډېره بریده کار کړی دی او هڅه کوي چې په دې سکتور کې شته ستونزو ته که په بشپړ ډول نه وي، نو تر یوه بریده پای ورکړي. لاندې به د روغتیا سکتور په برخه کې د اسلامي امارت کړنو او فعالیتونو ته اشاره وکړو.

## د روغتیا سکتور او د اسلامي امارت فعالیتونه

د اسلامي امارت په بیا واکمنېدو سره د هېوادوالو د بېړنیو او اساسي روغتیایي اړتیاوو د پوره کولو او همدارنګه د افغانستان د پرمختګ، سوکالۍ او ودانۍ لپاره پر یو شمېر مهمو پرمختیایي نوښتونو تمرکز شوی دی. د کلونو جګړو او بې ثباتۍ له امله د رامنځته شویو ننګونو او ستونزو سره سره، اسلامي امارت په هېواد کې د روغتیایي زېربناوو بیارغولو او با کیفیته روغتیایي خدماتو وړاندې کولو په خوا کې اقتصادي پرمختګ ته لومړیتوب ورکړی دی. اوسنی نظام د افغانستان د هغو زیربناوو پر بیارغونې تمرکز کړی، چې په تېرو لسیزو کې د جګړو له امله سختې زیانمنې شوې دي. د روغتیایي خدمتونو ښه کول د اسلامي امارت لومړیتوب دی. د هغو روغتونونو او کلینیکونو د بیا پرانیستلو هڅې روانې دي چې د جګړو او بې ثباتۍ له امله زیانمن شوي یا تړل شوي دي. روغتیایي مرکزونو ته طبي تجهیزات او اسانتیاوې چمتو شوې، ترڅو ډاډ ترلاسه شي، چې یاد بنسټونه کولی شي د خلکو اړتیاوې پوره کړي. د دې ترڅنګ، د ناروغیو د خپرېدو د مخنیوي او د یوې سالمې ټولنې د رامنځته کولو لپاره د واکسین کمپاینونه هم ترسره شوي او دغه هڅه لا هم روانه ده. د اسلامي امارت له بیا خلې واکمنېدو وروسته د هېواد په کچه ۴۰۰ روغتیایي مرکزونه جوړ شوي دي. له هغه وروسته په ۱۴۰۲ لمریز کال کې اسلامي امارت د روغتیا په سکتور کې مهمې لاسته راوړنې درلودلې دي. په دغه کال کې په ولسوالیو کې د روغتیایي مرکزونو جوړول، لرې پرتو سیمو کې د روغتیایي خدمتونو کیفیت لوړول، د جمهوریت روغتون سمبالول، د ساري ناروغیو کابو کول، د ګوزڼ ناروغیو له منځه وړل او ظرفیت لوړولو پروګرامونو جوړول د اسلامي امارت لومړیتوبونه وو. تېر کال کې د روغتیایي خدمتونو له وړاندې کوونکو ۱۸۰ بنسټونو سره د همکاریو هوکړه لیکونه لاسلیک شوي او د روغتیا په برخه کې ۱۸۴ فعال بنسټونه ثبت شوي دي. دا مهال افغانستان د سیروم د تولید په برخه کې ځان بسیاینې ته رسېدلی او تېر کال یې ډېره اندازه سیروم عربي هېوادونو ته هم صادر کړي دي. تېر ۱۴۰۲ کال کې د واکسین د تطبیق کچه له ۶۵ سلنې ۸۰ سلنې ته لوړه شوې او دغه موده کې څه د پاسه ۸ میلیونه مېندې او ماشومان واکسین شوي دي. په دې موده کې ۸ مېلیونه، ۵۹۹ زره او ۷۵۰ مېندو او ماشومانو ته بېلابېل واکسینونه تطبیق شوي دي. په ۱۴۰۲لمریز کال کې ۲۵زره او ۳۰۲ قلمه درمل او روغتیایي محصولات وارد شوي، د کورنیو تولیداتو ۲۳۱۶ قلمه درمل بازار ته وړاندې شوي او د درملو د تولید ۱۵ کارخونو، ۱۵۱ د درملو واردوونکو شرکتونو، ۱۷۹عمده پلورنځیو او ۲۴۶۸ فارمسیستانو ته د فعالیت جوازونه ورکړل شوي دي. دغه راز په ۱۴۰۲ لمریز کال کې ۳۴ زره او ۸۹ روغتیایي کارکوونکو ته د فعالیت جوازونه ورکړل شوي. په ۳۴ ولایتونو کې بندیانو ته روغتیایي خدمات وړاندې او د کورنیو تولیداتو د ملاتړ په موخه ۱۰۵۶ قلمه بېلابېل درمل ثبت او تایید شوي دي. د څه باندې ۱۵۰۰ نویو ډاکټرانو، له ۳۰۰۰ زیاتو معالجوي ډاکټرانو او د غاښونو څه باندې ۲۰۰ ډاکټرانو ثبتېدل نورې هغه لاسته راوړنې دي چې اسلامي امارت په ۱۴۰۲لمریز کال کې درلودې. د عامې روغتیا وزارت مشرتابه نورو هېوادونو ته ۱۴رسمي سفرونه کړي او دغه راز د روغتیایي خدماتو له وړاندې کوونکو ۱۸۰ موسسو سره د همکارۍ هوکړه لیکونه لاسلیک او په روغتیایي سکتور کې ۱۸۴ فعالې موسسې ثبت شوي دي. دغه راز اسلامي امارت په روان ۱۴۰۳ لمریز کال کې هم د روغتیا سکتور د پرمختګ له پاره ګامونه پورته کړي دي. ددې هلو ځلو ښه بېلګه د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د ۱۴۰۳ لمریز کال د ثور میاشتې په نهمه نېټه په هرات ولایت کې د ایتوک فارما او افغان مېډسن د درملو جوړولو فابریکو پرانیسته وه. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د یادو فابریکو د پرانیستې مراسمو کې د خپلې وینا پرمهال د باکیفیته

درملو د وړاندې کولو په برخه کې د ایتوک فارما او افغان میډسن تولیدي فابریکو فعالیت ته په اشارې سره وویل چې په دې سره به تر ډېره د هرات ولسونو د درملو ستونزې حل شي. ایتوک فارما د درملو تولیدي فابریکه کې ۱۰ میلیونه ډالره پانګونه شوې، چې په لومړي سر کې ۵۰ قلمه بېلابېل درمل تولیدوي. افغان میډسن د درملو تولیدي فابریکه کې بیا ۱۶ میلیونه ډالر پانګونه شوې، چې لسګونه قلمه مختلف درمل تولیدوي. د ۱۴۰۳ لمریز کال د اسد میاشتې په څلورمه د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري په کابل کې د لایف پرل په نوم د درمل جوړولو فابریکه پرانستل شوه. په همدې مناسبت جوړه شوې غونډه کې د ریاست‌الوزرا اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر آخوند وویل چې باکیفیته درمل له روغتیایي اړخه د سالمې انساني ټولنې ضمانت کوي او بې کیفیته درمل د روغتیا لپاره زهر دي، نو له کمیت مخکې باید کیفیت ته پوره پاملرنه وشي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند زیاته کړه چې د "لایف پرل" په نوم د درمل جوړولو فابریکې د فعالیت په پیل سره به هېوادوال د اړتیا وړ درملو ته اسانه لاسرسی پیدا کړي او د درملو په برخه کې به شته اړتیا تر ډېره بریده له داخلي تولیداتو څخه تأمین شي. لایف پرل درمل جوړولو پر فابریکې د څه باندې ۲۰ میلیونه ډالرو په ارزښت پانګونه شوې او په مستقیم ډول شاوخوا ۳۰۰ کسانو ته پکې د کار زمینه برابره شوې ده. یادې فابریکې خپل فعالیت د ۵۰ قلمه درملو په تولید پیل کړی او په راتلونکي کې دغه شمېر لوړ شي. په دې فابریکه کې ټابلېټ، کپسول، وچ پوډر، شربت او نور ډول ډول درمل تولیدېږي. له دې څخه جوته شوه چې اسلامي امارت د روغتیا سکتور د پرمختګ له پاره خپلې هڅې ګړندی کړې او غواړي په دې برخه کې شته ستونزو ته په بشپړ ډول پای ورکړي.

## پایله

وايي روغتیا شتمني ده. په رښتیا هم چې په بشري ټولنو کې تر هرڅه وړاندې باید روغتیا ته پاملرنه وشي. ددې برخې ستونزې باید په بشپړ ډول له منځه ولاړې شي. افغانستان چې له کلونو راهیسې له اشغال او جګړو سره مخ دی، د نورو برخو ترڅنګ د روغتیا برخې هم سخت زیانونه لیدلي دي. ددې سکټور زیربناوې له منځې تللې، ډاکټران او د روغتیا برخې متخصص قشر د هېواد پرېښودلو ته اړ شوی دی. همدا لاملونه دي چې لا هم په دغه سکتور کې ګڼې ستونزې شته او له امله یې خلک ځورېږي. خو اوس چې په افغانستان کې یو متعهد او مرکزي نظام رامنځته شوی، د نورو برخو ترڅنګ یې د روغتیا سکتور ته پوره پاملرنه کړې ده. دا مهال په افغانستان کې د صحت په سکتور کې تر یوه بریده موجودې ستونزې له منځه تللې دي او په دې اړه لا هم په جدیت سره کار روان دی. د اسلامي امارت له راتګ وروسته د هېواد په کچه لسګونه روغتیایي کلینیکونه فعال او دا مهال خلکو ته روغتیایي خدمات وړاندې کوي. د افغانستان د مرکز په ګډون په لویو ښارونو کې موجود روغتونونه فعال او د بې کیفیته درملو د وارداتو د مخنیوي ترڅنګ په هېواد کې د خصوصي سکټور په پانګونې سره د درملو د تولید کارخونې فعالې شوې دي. که چیرې په همدې ډول د روغتیا سکټور له پاره کار روان وي، نو په راتلونکي کې به په افغانستان کې د روغتیا په برخه کې شته ستونزې پای ومومي او هم به د بې کیفیته درملو مخه نیول شوې وي. له هغه وروسته به نه څوک د درملني له پاره بهر ته ځي او نه به هېواد ته بې کیفیته درمل چې د انسانانو ژوند ګواښي، واردېږي.





ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصــادي او تــولنيزو مسايلــو په برخــه كــې
د رياســـت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اوونيزه اباديّ
هفته نامه آبادی


# د افغانستان اسلامي امارت او منځنۍ اسيا هېوادونو ترمنځ
# ورروستـــي پرمختگــونه



**ليكوال: بصير احمد**

## سريزه

واک ته د اسلامي امارت په رسېدو سره افغانستان متفاوت سياسي – اقتصادي سياســـت تعقيبوي. د اسلامي امارت مشرانــو او وياندويانو ان په لومړيو ورځــو او بيا له هغه را وروســـته په وار وار نړيوالو ته په ډاگه كړې چې اســـلامي امارت اقتصاد محوره بهرني سياست غوره كړى او د همدغه سياست له مخې له نړۍ سره دوه اړخيز تعامل ته راوړاندې شوى، د هيڅ هېواد په كورنيو چارو كې لاسوهنه نه كوي او نه هم د افغانستان خاوره د بل چا پر ضد كارول كېږي.

د اســـلامي امارت له لوري د خپل بهرني سياست په ډاگه كولو وروسته ډېرى هېوادونو له افغانستان سره تعامل پيل كړى، چــې له دې ډلــې د منځنۍ اســـيا هېوادونه پراخ ســـياسي او اقتصادي تعامل ته راوړاندې شـــوي دي. د منځنۍ اسيا هېوادونو له جملې له ازبيكستان، قزاقستان او تركمنســـتان هېوادونو سره د تېرو دريبو كلونو پر مهال په ځانگړي ډول په دې وروستيو څو مياشتو كې پراخ سياسي او اقتصادي پرمختگونه رامنځته شـــوي دي، اوسمهال په يادو هېوادونو كې د افغانستان ســـياسي استازولۍ فعالې دي، دوى د اســـلامي امارت ډيپلوماتـــان منلي او په ورته وخت كې په كابل كې هم د يادو هېوادونو سفارتونو فعاليت پيل كړى دى. پر دې سربېره د افغانستان او يادو هېوادونو ترمنځ د سوداگرۍ په كچه كې هم د تېر په پرتله د پام وړ پرمختگونه شوي او د هغو ستونزو پر حل گړ كار روان دى، چـــې له مخې يـــې دوه اړخيـــزې او څو اړخيـــزې اړيكې پراخېدلې شي.

موږ په دغه مقاله كې د افغانستان او منځنۍ اسيا هېوادونو ترمنځ د وروستيو پرمختگونو په اړه لنډې خبرې كوو.

### د افغانســـتان او منځنۍ اسيا هېوادونو ترمنځ په ســـياسي او اقتصادي اړيكو كې وروستي پرمختگونه

د افغانســـتان اســـلامي امارت په بهرني سياســـت كې د منځنۍ اسيا هېوادونه مهم ځاى لري او هغو ته د سيمې د مهمو ستراتيژيكو هېوادونو په نظر گوري. ازبيكستان چې په منځنۍ اسيا كې مهم سياسي او اقتصادي رول لوبوي، د تېــرو دريبو كلونو پــر مهال يې په كور دننه، ســـيمه او نړيواله كچه پر نړيوالو ستيجونو له اسلامي امارت سره پر تعامـــل كولو ټينگار كړى او پر دې بـــاور دى، چې باثباته افغانستان د سيمې او نړۍ په گټه دى . په همدې موخه د تېــرو دريبو كلونو په ځانگړي ډول د تېر ۱۴۰۲ لمريز كال پـــر مهال د دواړو لورو د لوړ پوړو اســـتازو له لوري تر ۲۰ زيات رسمي سفرونه ترسره شـــوي او هدف دا دى چې د كابل او تاشكند ترمنځ سياسي او اقتصادي تعامل پراخ او پياوړى شي.

ازبيكســـتان اوســـمهال په افغانســـتان كې خپل سفارت پرانيســـتى او په نـــور مال ډول ســـفارتي خدمات وړاندې كوي. پر هغه سربېره يې په مزارشريف كې هم كونسلگري فعالـــه ده. له دې وړهاخوا په تاشـــكند كې د افغانســـتان ســـفارت اسلامي امارت ته تسليم شـــوى او اوسمهال يې چارې د اســـلامي امـــارت د ډيپلوماتانو لـــه لوري رهبري كېږي. په دې وروســـتيو كې د ازبيكســـتان لومړي وزير بناغلي عبدالله عارف اوف كابل ته د خپل سفر پر مهال وويل، په تاشـــكند كې د اسلامي امارت د ورپېژندل شوي سفير د رســـمي ماموريت د پيل په اړه په تاشكند كې دننه ډېر پرمختگونه ترسره شوي او په نږدې راتلونكي كې به د اســـلامي امارت ســـفير په رســـمي ډول ومني، چې دا په ســـياسي برخه كې د دواړو هېوادونو ترمنځ مهم پرمختگ دى. نوموړي دا هم وويل چې پر دې سربېره ازبيكســـتان چمتـــو دى چـــې په تاشكند كـــې د اســـلامي امارت د ډيپلوماتيک ماموريت كچه نوره هم لوړه كړي.

د همدغه سفر پر مهال د ازبيكستان لومړي وزير د اسلامي امارت د رياست‌الوزراء له اقتصادي مرستيال سره د ليدنې پر مهال وويل، تاشـــكند چمتو دى چې په نږدې راتلونكي كې له كابل سره د خپلې ســـوداگرۍ كچه يو ميليارد او په راتلونكو دريبو كلونو كې تر دريبو او ان پينځو ميليارد ډالرو پورې ورســـوي. د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداگرۍ كچې زياتوالي په موخه د روان ۱۴۰۳ لمريز كال د سنبلې مياشتې په اتمه نېټه د ازبيكســـتان په سرحدي ولايت ترمذ كې د «د ترمذ نړيوال ســـوداگريز» پرانيستل شو چې د رياست الوزراء اقتصادي مرســـتيال ته هم پكې رسمي بلنه وركړل شوې وه.

په ترمذ نړيوال سوداگريز مركز كې د افغانستان د صادراتو د بســـته بندۍ، هغو ته د بازارموندنې او نورو هېوادونو ته د انتقال بنـــه زمينه برابره شـــوې، چې له مخې به يې افغان سوداگرو ته د پام وړ اســـانتياوې رامنځته شي. د همدغه مركز د پرانيســـتې پر مهال د ازبيكســـتان لومړي وزير د رياست‌الوزراء له اقتصادي مرستيال سره په ځانگړې ليدنه كې ژمنه وكړه چې تاشكند چمتو دى له خپلې خاورې د

منځنۍ اسيا نورو هېوادونو ته د افغانستان د تازه مېوو د ترانزيټ په برخه کې هر ډول اسانتياوې رامنځته کړي . د سوداګرۍ او ترانزيټ په برخه کې د ترمذ نړيوال سوداګريز مرکز ته د افغان سوداګرو اسانه لاسرسی او همدا راز د ازبېکستان له خاورې د منځنۍ اسيا هېوادونو ته د افغانستان د تازه مېوو د ترانزيټ په برخه کې د اسانتياوو رامنځته کول هغه وروستي پرمختګونه دي چې په پايله کې به يې د دواړو هېوادونو په سوداګرۍ کې د پام وړ زياتوالی راشي.

د منځنۍ اسيا هېوادونو له ډلې له قزاقستان سره هم د اسلامي امارت سياسي او اقتصادي اړيکو د پام وړ وده کړې ده. قزاقستان اوسمهال په کابل کې خپل فعال سفارت لري، چې د کابل او استاني ترمنځ يې د اړيکو په رغولو، په مختلفو برخو کې د ګډو همکاريو رامنځته کولو او همدا راز د راتلونکو مشترکو اقتصادي او سياسي اړيکو په پلان کولو کې مهم رول . پردې سربېره څه وخت وړاندې استاني اسلامي امارت د هغو ګروپونو له لېست څخه و ايست چې په دغه هېواد کې بنديز پرې لګېدلی دی. قزاقستان دا خبره په ډېره صراحت او جرئت سره وکړه چې دوی دا کار له اسلامي امارت سره د پراخ اقتصادي تعامل د رامنځته کولو په موخه کړی دی او استانه غواړي چې له کابل سره راتلونکي ګډ اقتصادي فرصتونه يوځای استفاده کړي .

په ورته وخت کې بيا قزاقستان په استانه کې د اسلامي امارت له لوري ورمعرفي شوی شارژدافير هم منلی چې اوسمهال د سفارت چارې رهبري کوي. د قزاقستان د بهرنيو چارو وزارت تاکيد کوي چې دا چاره يې د دواړو هېوادونو د سياسي او اقتصادي اړيکو د پراختيا په برخه کې مهم پرمختګ دی .

پر سياسي اړيکو سربېره د دواړو لورو ترمنځ د اقتصادي اړيکو د پراختيا په موخه هم د دواړو هېوادونو لوړ پوړو چارواکو ډېر سفرونه کړي دي، چې په پايله کې يې د تېر په پرتله د ۱۴۰۲ لمريز کال پرمهال د کابل او استاني ترمنځ د سوداګرۍ په کچه کې د پام وړ زياتوالی راغلی و او دغه اندازه شاوخوا ۲۷۰ ميليونو ډالرو ته رسېده. دواړه هېوادونه غواړي چې په نږدې راتلونکي کې دغه کچه يو ميليارد ډالرو ته ورسوي او د همدې موخې ترلاسه کولو په موخه له مهمو ترانزيتي لارو څخه استفاده وکړي .

د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګريزو او ترانزيتي اړيکو د پراختيا په موخه په دې وروستيو کې په ازبېکستان کې د ترمذ نړيوال سوداګريز مرکز د پرانيستې په څنډو کې د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د قزاقستان له لوړ رتبه پلاوي سره وکتل او دواړو لورو ټينګار وکړ چې د دوه اړخيزو اقتصادي اړيکو د پياوړتيا په موخه به په ګډه کار کوي، چې له مخې به يې په راتلونکو پينځو کلونو کې د کابل او استاني ترمنځ د سوداګرۍ کچه دربيو ميليارد ډالرو ته ورسېږي.

ترکمنستان هم د منځنۍ اسيا هېوادونو له ډلې مهم او د افغانستان په پوله شريک ګاونډی هېواد دی. واک ته د اسلامي امارت په رسېدو سره ترکمنستان د خپل بې طرفه بهرني سياست له مخې له لومړيو هغو هېوادونو دی، چې د بهرنيو چارو وزير رشيد مرادوف په مشرۍ يې لوړرتبه پلاوي کابل ته سفر وکړ او دلته يې د اسلامي امارت له لوړ پوړو مسوولينو سره وکتل. ترکمنستان په کابل کې په هماغه لومړيو کې خپل ډيپلوماتيک فعاليت پيل کړ او پر هغه سربېره يې په دې وروستيو کې د اسلامي امارت له لوري ورمعرفي شوی سفير هم په عشق آباد کې ومانه .

د کابل او عشق اباد ترمنځ د سياسي او اقتصادي اړيکو د پراخوالي لپاره په پرله پسې ډول د دواړو هېوادونو له لوري هڅې کېږي چې په دې وروستيو کې د اسلامي امارت د کانونو او پټروليم د سرپرست وزير ملا هدايت‌الله بدري په مشرۍ تللي پلاوي په عشق‌اباد کې له مختلفو لوړرتبه ترکمن چارواکو سره وکتل. د همدغه سفر پر مهال د افغانستان او ترکمنستان ترمنځ د تاپ پروژې هوکړه ليک لاسليک شو او ټينګار وشو چې په نږدې راتلونکي کې به يې عملي چارې پيل شي. تاپ هغه پروژه ده چې له مخې يې له ترکمنستان څخه د افغانستان له خاورې پاکستان ته انرژي انتقالېږي او کابل ته به په کلني ډول ميليونونه ډالر فيس ورکوي .

پر تاپ سربېره د همدغه سفر پر مهال له ترکمن لوري سره د اوسپنې پټلۍ شبکې په برخه کې د دوو مهمو پروژو تړونونه هم لاسليک شول. دا تړونونه د ترکمنستان د اورګاډي له اداري سره د تورغونډۍ د بندر د پراختيا او له تورغونډۍ څخه د هرات تر صنوبر پورې د ۲۲ کيلومتره اوسپنې پټلۍ شبکې د جوړولو په اړه دي، چې ډېر ژر به يې د ترکمنستان له لوري عملي کارونه پيل شي . افغانستان اوسمهال په ورځني ډول د تورغونډۍ بندر له لارې ترکمنستان ته په سلګونو ټنه واردات او صادرات کوي چې د يادو پروژو په بشپړېدو سره به دغه کچه د پام وړ زياته شي.

پر دې ټولو سربېره د دغه سفر مهمه لاسته راوړنه د تاپي پروژې په اړه د هوکړه ليک لاسليکول و. د دې هوکړه ليک په لاسليک سره دواړو خواوو په خپلو خاورو کې د يادې پروژې د پلي کولو په موخه د تاسيساتو جوړولو او همداراز د يادې پروژې اړوندو اسنادو د بشپړولو په برخه کې ژمنې وکړې او تاکيد وشو چې په نږدې راتلونکي کې به يې عملي چارې پيل شي . افغانستان به د تاپي پروژې له لارې هر کال کابو ۵۰۰ ميليونه ډالره د ترانزيټ او کله چې دغه پروژه بشپړه شوه، نو تر لسو کلونو به ۵۰۰ ميليونه مترمکعبه ګاز او تر شلو کلونو پورې به يو ميليارد مترمکعب ګاز ترلاسه کوي. د دې پروژې ټول لګښت شاوخوا ۱۰ ميلياره ډالره اټکل شوی دی.

پر دې ټولو سربېره د قرغزستان حکومت د اسلامي امارت نوم د هغو ډلو له نوملړ څخه ليرې کړ چې په دغه هېواد کې پرې بنديز لګېدلی و. د قرغزستان د بهرنيو چارو وزير جين بېګ کولوبايف وويل، بشکېک دا اقدام د سيمه‌ييز ثبات د ټينګښت او د افغانستان له اسلامي امارت سره د اړيکو د پراخولو په مقصد کړی دی. د قرغزستان د لوېي څارنوالۍ دفتر د تېرې اوونۍ په پيل کې د هغو شلو ډلو نوملړ خپور کړ، چې تروريستي ډلې بلل شوې دي، خو د اسلامي امارت نوم پکې نه و شامل. اسلامي امارت د قرغزستان دا اقدام ستايلی او دا يې د دواړو هېوادونو ترمنځ د سياسي او اقتصادي اړيکو د پراختيا په برخه کې مهم بللی دی .



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او تولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

ابادي اوونيزه
هفته‌نامه آبادی


## پایله

اسلامي امارت د اقتصاد محوره بهرني سياست په غوره کولو سره له ګاونډيو، سيمي او نړۍ هېوادونو سره دوه اړخيز تعامل ته را ورانديز شوی او دا ډېر په صراحت سره وايي چې د افغانستان خاوره به د هېچا پر ضد ونه کارول شي. د همدغه سياست په رڼا کې ډېرو هېوادونو له اسلامي امارت سره سياسي تعامل او همدا راز سوداګريزه راکړه ورکړه پيل کړې ده. په دې برخه کې بيا د افغانستان شمالي ګاونډي هېوادونه چې د منځنۍ اسيا مهم هېوادونه دي، تر نورو مخکې دي او اوسمهال د افغانستان او ازبېکستان، قزاقستان او ترکمنستان سره سياسي او اقتصادي اړيکې يو نوي سياسي او اقتصاد پړاو ته ننوتلي چې په دې وروستيو څو مياشتو کې يې د پام وړ وده کړې ده.

ازبېکستان چمتووالی ښودلی چې په نږدې وخت کې به په رسمي ډول د اسلامي امارت ور معرفي شوی سفير ومني، د ترمذ نړيوال سوداګريز مرکز ته يې د افغان سوداګرو د لاسرسي فرصت برابر کړ او همدا راز يې له خپلې خاورې په تېربدو سره د منځنۍ اسيا هېوادونو ته د افغانستان د تازه ميوو د ترانزيټ په برخه کې هر ډول همکارۍ ته چمتووالی ښودلی دی.

له ترکمنستان سره هم پر سياسي اړيکو سربېره په دې وروستيو کې په ګنو اقتصادي برخو کې پرمختګونه ترسره شوي دي، چې ښه بېلګه يې څو ورځې وړاندې له دغه هېواد سره د تاپي او ټاپ پروژو د هوکړه ليکونو لاسليک ګڼل کېدل دي چې ډېر ژر به يې عملي کارونه پيل شي. پر دې سربېره له ترکمنستان سره د تورغونډۍ بريښنا کوټ او له دې ځايه د هرات تر صنوبر پورې د ۲۲ کيلومتره اوسپني پټلۍ شبکې د دوو پروژو د پراختيا هوکړه ليکونه هم لاسليک شوي، چې له مخې به يې د دواړو هېوادونو سوداګرۍ د پام وړ وده وکړي.

په دې وروستيو کې د قرغزستان هغه اقدام هم ډېر مهم دی چې له مخې يې اسلامي امارت د دغه هېواد د هغو ډلو له نوملړ څخه و ايستل چې په دغه هېواد کې بنديز پرې لګېدلی و. دا اقدام به د دواړو هېوادونو د سياسي او اقتصادي تعامل پراختيا ته زمينه برابره کړي.

پر ازبېکستان او ترکمنستان سربېره له قزاقستان او اذربايجان سره هم په مهمو سوداګريزو او ترانزيټي برخو کې پرمختګونه ترسره شوي دي. اذربايجان په افغانستان کې د صنعتي فابريکو جوړولو او همدا راز له افغانستان او سيمي هېوادونو سره د خپلو سوداګريزو اړيکو د پراختيا په موخه د لاجوردو ترانزيټي لارې بيرته فعالېدو ته لېوالتيا ښودلې، چې له مخې به يې د افغانستان سوداګريز توکي ترکيې او له هغه ځايه د اروپا تر بازارونو پورې ورسېږي.

## د بهرنيو اسعارو بيې

د کابل په شهزاده سرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امريکايي ډالر | ؋۷۰,۰۵ | ؋۷۰,۱۰ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلدارې | ؋۲٤۱ | ؋۲٤۱ |
| ۱۰۰۰ | ايراني تومن | ؋۱,۲۷ | ؋۱,۲۷ |
| ۱ | اروپايي يورو | ؋۷۷,۷۰ | ؋۷۷,۷٦ |
| ۱ | روسی روبل | ؋۰,۷۸ | ؋۰,۷۸ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلدارې | ؋۸۳٤ | ؋۸۳۵ |
| ۱ | انګليسي پونډ | ؋۹۱,۹۹ | ؋۹۲,۰۵ |
| ۱ | سعودي ريال | ؋۱۸,٦٦ | ؋۱۸,٦۷ |
| ۱ | اماراتي درهم | ؋۱۹,۰۷ | ؋۱۹,۰۹ |
| ۱ | چيني ين | ؋۹,۸۸ | ؋۹,۸۹ |

